غ.حضرت ۲۰۱۷/۰۷/۰۸

# د جهانی صاحب د وروستی لیکنی په اړه د زړه خواله

موجود واقعیتونه او سلیم عقل حُکم کوی چه د جهانی صاحب وروستی ښرگندونی (د یوې ترخې خاطرې بیان) د حقیقت ښخه لیری ندی.
د نوموړی لیکنه له دوو برخو ښخه تشکیل شویده، لومړی برخه ئې د خاطرې بیان، چه رښتیا هم ترخه او دردوونکې ده او دوهمه برخه ئې د راتلونکو ټاکنو په هکله د منورینو د رښتینی رسالت او مأموریت تر سره کول.
د لومړی برخی په هکله ئې زیادی تبصرې ته اړتیا نشته، د بده مرغه هر دردېدلی او خوږمن افغان د اوسنی حالت په احساس او مشاهده، نور هم دردمن کیږی او رښتینی منورین بله فکری لیاره نلری بېله دې چه یا د حقیقت پر بنسټ او یا د خپلی او نورو د تسلا پخاطر دا فریاد تر خوله راوباسی چه د اوسنی حکومتی دستگاه او ماشین د فساد یوازنی علت همدا د دوو ناسکه انگلوساکسونی وړونو له فساد نه ډک سیالی او رقابت او د خیرنو گټو د تثبیت ادامه ده چه البته د دې تئوری د هضم استعداد د هری معدې له وسه پوره ندی.

د جهانی صاحب د لیکنی د دوهمی برخی په هکله باید عرض کړم:

که ښه هم د نوموړی توصیه د راتلونکو پارلمانی ټاکنو د سلامتی او پاکی د کچی د لوړېدو لپاره، یوه پاکه او ملی توصیه ده خو د توصئې نرمښت او پدې هکله د بنسټیزو خنډونو د موجودیت د نه پېژندنی زړورتیا به د هرو ټاکنو او هر ملی اقدام او تصمیم ،پر ښرنگوالی کوم خاص اغیز ونلری.
زموږ د ټولنی فرهنگی - فکری – روحی جوړښت او دې جوړښت ته د اکثرو غولیدلو او غولوونکو خلگو ځورووونکی تړاؤ او اعتیاد، زموږ ټولنه په ځانگړې توگه منور ځوانان د سختو ستونزو سره مخامخ کړیدی.
دا تریخ حقیقت همیشه زما وړوکی ذهن او زړگی په ځورووونکې توگه بوخت ساتلی دی چه:
زموږ اکثره احمق او سطحی منبری مُلایان او همدارنگه زموږ اکثره سُرنائی هنرمندان فقط د دریاب سطح تشریح کوی او د عُمق او تَل د تشریح د بیان ښخه عاجز دی.
زموږ مُلا فقط دا یو ښو محدود او معدود مسائل زموږ خلگو ته بیانوی چه مثلاً شراب چیښل حرام کار دی، د شرابو په حُرمت هر ښوک خبر دی او حتی که مُلا د د شرابو په چیښلو فتوا!!! هم ورکی بیاهم اکثره خلگ دا کار نکوی ځکه د شراب چیښل د کنداریانو خبره ،جیب غواړی، حوصله غواړی، ځانگړی شرائط غواړی، مخصوص آداب او رسوم غواړی او....
هغه ښه چه د دې اسیرو مُلایانو ښخه باید واورېدل شی او د بده مرغه ندی اورېدل شوی هغه دا خواږه حقیقتونه دی:
د جنت په تمه او د دوږخ له وېری، هره ورځ پر غیر پښتون او غیر تاجک او غیر دُرانی او غیر غلجی پیغمبر ښو ځله په کور یا مسجد کی درود او صلوات وایو خو کله چه له لمانځه فارغ شو، خپل همسایه ته د غلجی او دورانی او پښتون او غیر پښتون په سترگه گورو.د دې تفکر نتیجه داده چه یا درود ویل پر پېغمبر یو بیهوده او غولوونکی کار دی یا خپل همسایه ته په پردیۍ سترگه کتل یو بېهوده کار دی، د دې دواړو متضادو فکری- عقیدوی روزل په خپل ځان کی یو ستر جرم گڼل کیږی.بناً مُلا صاحب باید په صراحت او جرئت چیغی ووهی چه وړونو:
غلجی گڼل او درانی گڼل او د قوم! د مشر! اطاعت په حقیقت کی د شیطان پیروی او بندگی ده او شراب چیښلو غوندی یو حرام کار دی، حتی تر شراب چیښلو ستره گناه گڼل کیږی ،لږ تر لږه د شرابو یو حُسن او ښه والی پدې کی دی چه اورجینل او اصلی الترناتیو هم په جنت کی لری خو قوم پرستی، بُت پرستی غوندی د دواړو جهانو خُسران گڼله شویده، هیڅ غلجی او یا درانی خپل قوم! ته د انتساب پخاطر د جنت هیله نشی درلودای او نه هم د جنت او دوږخ معیار د قوم ښرنگوالی گڼل کېدای شی.نتیجتاً مُلا گل باید دومره ووائی چه حتی د جنت او دوزخ د انکار په صورت کی، د دې اصل ښخه انکار نشی کېدای چه دا دنیا هم جنت او دوږخ غوندی ده نو که ښوک غواړی ځانته جنت جوړ کړی هم مکلف دی چه د دې جنجالی او اضافی او سر دردوونکو مسائلو ښخه لاس په سر شی چه حداقل گټه ئې د توهین او نفرت او کرکی نشتوالی دی.
د جهانی صاحب او هر خوږمن افغان د پاکی هیلی د تحقق پخاطر، که غواړو او یا وغواړو چه سالم انتخابات او سالم پارلمان ولرو نو باید د ټولنیزی – ایمانی – وجدانی او انسانی انگېزی او نیت په اساس اقدام وکړو او خپله رأیه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نه د قوم او ټبر او سیمی په اساس بلکه د رښتینی لیاقت په اساس په جُوال کی ور شَوه کو. موږ به هغه وخت د سرېټوب پړاؤ ته رسیدلی یو چه دا قومی او ژبنی مسائل زموږ په افکارو او ملی عقایدو کی هیڅ رول ونلری چه نتیجه به ئې د یو سالم پارلمان او سالم حکومت او همدارنګه دښمنانو د خیرنو تمو پښېده وی ، چه غیر لدې به مو ټولی هڅی د ټَر سره مخامخ وی.

امّا د هنر مندانو رسالت مو هم ډېر درونډ دی، هغوی هم باید ببلله وېری او تمی په ډیره زړه ورتیا ددې شیطانی فرهنګ یعنی قوم پرستی په وړاندی سخته او نه ستړی کېدونکی مبارزه وکړی او بېله خدای( که خدای ته عقیده نلری، همدا وطن او ملی جذبات خپل خدای وګڼی) بل د هیچا څخه بېره ونلری او که رشتیا هم د هنر اِصالت ته معتقد وی نو باید تر هرڅه لومړی د خپل قوم او ټبر او مشرانو بدو کړنو غندنه وکړی څو د ملی یووالی او اعتماد او باور روحیه زموږ په خلګو کی را ژوندۍ او یوې روښانه راتلونکی ته هیلی، فقط تشی باتې نه وی . په مینه.

پایان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ